سراج الحق ببرک زی ځدراڼ
۲۰۱۵/۰۶/۱۵

# جګړه ییز ماموریت

## „موږ مجبور یو په افغانستان کې د شویو پرمختګونو خوندي ساتنه وکړو"

د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکې متحدو ایالاتو ځانګړي استازی ډانیل فلیدمن سره د المان د دیولټ ورځپاڼې او ویبپاڼې د بهرنیو چارو خبریال ډانیل دیلان بوه میر مرکه

د طالبانو چټکو او شدیدو بریدونو تمه کیده. اما موږ باید د طالبانو پوځي بریدونو څخه ورسته د لویدیځ پوځونو د وتلو پلان ته له سره کتنه وکړو. د افغانستان لپاره دامریکې متحدو ایالاتو ځانګړي استازی ډانیل فلیدمن وویل :
افغانستان کې له څه باندې دیارلسو کالونو راهیسې د نړیوال ایتلاف ځواکونه په جګړه کې بوخت دي او هممهاله ورسره هڅه کیږي، د هندوکوښ په لمنو کې یوه دهضمولو فعاله ولسواکي او یو ژوندی پاتې کیدونکی ښه اقتصاد ورغوول شي.
سره د دې چې طالبان د جګړې په ډګرونو کې نه وو مات شوي، د ناټو په مشرۍ د ایساف ماموریت د تیر کال په پای کې پای ته ورسید. او ډیر بهرني پوځونه له افغانستانه ووتل.
طالبانو په تیرو څو اونیو کې د افغان وسله وال پوځ په وړاندې شدیداو درانه بریدونه پیل کړل. په افغانستان کې پاتې شویو نړیوال وسله وال پوځونه مجبور شول، چې د افغان سرتیرو سره مرسته وکړي. تر څو د طالبانو بریدونه شنډکړل شي. داخبره هم د افغانستان او پاکستان لپاره د ځانګړي استازی ډانیل فلیدمن وکړه. دی زیاتوي، دې پوړې اړه لري، چې څنګه او په څه ډول د هندوکوښ څخه د پوځونو د وتلو لړۍ په مخ بیول کیږي.

د دیولټ خبریال پوښتنه: ښاغلي سفیر فلیدمن، آیا دا خبره سمه ده، له کله نه چې د ایساف نړیوال ماموریت پای ته رسیدلي او په منځني ختیځ کې نوي کړکیچ په راولاړیدو دی، داسې ښکاري افغانستان نور تاسو ته لږ اهمیت لري؟
د ډانیل فلیدمن ځواب: طبیعې ده چې دا خبره سمه نه ده، افغانستان زموږ د ستراتیژیکو موخو لپاره او د نړۍ امنیت او ثبات لپاره بې حده ځښت ډیر مهم دی. زموږ او تاسو هیوادونو ځښت ډیر مالي مصارف د دغې سیمې د ثبات او امنیت لپاره لګولي دي. زموږ ډیرو سرتیرو خپل ژوند دلته قرباني کړي دی. موږ ځښت ډیر فوق العا ده پرمختګونه د افغان امنیتي ځواکونو وړتیا لوړول، ښوالي او د ټولنیزو چارو د بیا رغونې په برخه کې ترلاسه کړي دي.
اجازه نشته، چې دا شوي پرمختګونه لمنځه ولاړل شي. له همدې امله موږ باید په افغانستان کې دخیل او فعال واوسو. په دغه بهیر کې زموږ سره د المان هیواد مهم رول لوبوي او همداشان المان د افغانستان د راتلونکي برخلیک په اړه، د امنیت، ثبات او پرمختګ په لاره کې کلیدي رول لوبوي.

د دیولټ خبریال پوښتنه: همداوس خو داسې مالومیږي، د هغو سیمو مسوولیت چې المان په غاړه درلود، په هغه سیموکې امنیتي وضعیت په ځانګړي ډول ډیر خراب شوي دی. په کندز کې طالبان په دې وتوانیدل، چې اټکل ۳۰۰۰ سرتیري د جګړې ډګرته ولیږي، دوی د کندز ولایت مرکز او د کندز ښار شاوخواسیمو ته ځانونه ورسول.
د ډانیل فلیدمن ځواب: موږ تل په دې باور وو، چې سږ کال به یو ډیر ستونزمن کال وي، طالبان ډیر دلیلونه لري، چې دوی ولې اوس د ملي یووالي حکومت او د افغان ځواکونو وړتیا په داسې یو تازک حالت کې ازمویي، چې دوی تازه د ایساف ځواکونو څخه د امنیتي وضعیت مسوولیت ترلاسه کړي دی.
افغان وسله وال ځواکونو تر اوسه د طالبانو ټول وسله وال بریدونه په شاتمبوالي دي. طالبان نشي کولي د بې ساري پرمختګونو اسانتیاووې او سهولتونه مخه کوم، چې موږ د افغانانو د ژوندانه په چاروکې مثبت بدلون رامنځته کړي، ونیسي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ۲۰۰۱ کال څخه د مخه کله، چې د نړیوالو ځواکونه افغانستان ته ننوتل، یو میلیون د ښوونځي ماشومان شتون درلود.دا زده کونکي ټول هلکان وو. نن د اتوو نه تر نهه میلیونو ماشومان ښوونځي ته ځي، په دغه شمیره کې۴۰ سلنه زده کونکي نجلي دي. په اوسط ډول د ښځو د ژوندانه په چارو،هیلواو اړتیاوو کې شل سلنه زیاتوالی راغلي دی یواځې په دې نوي حکومت کې څلور ښځینه وزیري شتون لري او موږ د هیواد په پرمختګ کې او بنسټیزو چارو کې تر ډیره حده پوري ښوالي راوستي دی. په دې ورستیو دیارلسو کالونو کی دومره کیلومتره سړکونه ورغول شول، چې د ۲۰۰۱ کال څخه مخکې د افغانستان په تاریخ کې نه وه رغول شوي. نن۷۰ سلنه افغان وګړي ګرځنده ټیلفون په لاس کې لري او د ډلیزو رسنیو یو ژوندي چاپیریال رامنځ ته شوي دی. د دې ټولو شیانو ساتنه باید موږ وکړو. تر څو افغان دولت د دې جوګه شي، چې په یواځیتوب سره د دغو شیانو ساتنه او دفاع وکړاي شي، نړیواله ټولنه به له افغانستان سره په دغه لارکي یو کلیدي رول لوبوي.

د ډیولټ خبریال پوښتنه: د امریکایي خبري رسنیوپه حواله د ۲۰۰۱ کال څخه تر اوسه د افغانستان د بیا رغونې لپاره د افغان وسله وال پوځ په شمیره کې د افغان سرتیرو تیښته او د درانه تلفاتو له امله د افغان سرتیرو شمیر خپل ورستي کچه ته راټیټ شوی دی. آیا په ریښتیا د افغان وسله وال پوځ د دې جوګه دی، دا جګړه یواځې رهبري کړي او خپل مسوولیت پرمخ بوځي؟

د دانیل فلیدمن ځواب: د نړیوالو ځواکونو د وتل څخه ورسته پوځي پوښښ یو جدي پرابلم دی، په دې اړه کار روان دي. د افغان وسله وال ځواک د تلفاتو شمیرې ته په کتو سره، څنګه چې اوس جګړو د دوی تر قوماندې او مشرې لاندې ترسره کیږي، دغه حالت له کواښ سره مخامخ شوي دی. دقیقاً له همدې امله د افغانستان نړیوال ملګري مجبور دي، د هندوکوښ په لمنو کې پاتي کیدونکي پوځونه افغان سرتیروته په خپلو محاربوي چارو کې ښوونه، روزنه او سلا مشورې ورکړي. همدغه غوښتنه ولسمشر غني د مارچ په میاشت کې له واشنګټن څخه د رسمي لیدني پرمهال وکړه، له همدې امله ولسمشر اوباما د وتلو په پلان کې د انعطاف پزیري غوښتنه ومنله. اصلاً په اول کې پلان داسي وو، د دې کال تر پایه په افغانستان کې د ۹۸۰۰ سرتیرو څخه۵۵۰۰ پاتي شوي واي. اوس باید دغه شمیر سرتیري د طالبانو د اوړی عملیاتو تر پایه د اوکتوبر یا نوامبر میاشتي تر پایه باید دلته پاتي او وساتل کیږي. زموږ د پلان سره سم تر ۲۰۱۷ کال پوري د امریکې متحدو ایالاتو پوځي حضور په افغانستان کې ورو ورو بدلیږي او خپل ماموریت یو امنیتي مرسته کوونکي ماموریت ته را ټیټوي. دا ماموریت به په کابل کې د امریکا د سفارت لخوا رهبري کیږي .د دې ماموریت په وجهه به زموږ دا سفارت د امریکې متحدو ایالاتو د نور سفارتونو په پرتله جوت توپیر ولري. اوس خبره دا سی ده، چې د افغان وسله وال ځواکونو سره باید مرسته وشي، تر څو دوی د طالبانو د اوړي عملیاتو په وړاندې په بریالیتوب سره دفاع وکړي، کله چې د اوړي جګړې موسم تیر شي. موږ به د افغانستان حالات بیا له سره تحلیل او تجزیه کوو. اړتیاووي به وپیژندل شي او په دې اړه به فکر وکړو، چې په څه ډول د ۲۰۱۶ کال څخه ورسته د خپلو پوځونو وتلل کرندي کړو او د وتلو څخه ورسته به څه ډول چلند کیږي.

د ډیولټ خبریال پوښتنه: دا په دې مانا ده، چې د وتلو پلان به بیا له سره اصلاح او بدلون به په کې راوستل کیږي؟

د دانیل فلیدمن ځواب: دا به موږ وګورو، لکه څنګه چې وویل شول، موږ باید د پلان له مخې خپل پوځي حضور کچې راټیټولو ته ورسیږو او ورسره په کابل د امریکې په سفارت کې د پوځي همکاریو یو دفتر به پرانیستل شي. دا باید هم ووایم، چې د موضوع څیرنه او د دې بهیر په اړه ورستي پریکړه لانه ده شوي.

موږ دې ته هم ګور، چې زموږ نور ملګري هیوادونه په افغانستان کې څه ډول مرسته کولي شي

په دې ډله کې یو د المان هیواد راځي، نوموړي هیواد د افغانستان په امنیت، ثبات او ټولنیز پرمختګ کې ځښت ډیر کار کړي دی .

د ډیولټ خبریال پوښتنه: المان باید خپلي مرستي او همکاري په افغانستان کې بیا له سره تقویه کړي. ؟

د دانیل فلیدمن ځواب: موږ په افغانستان کې د المان ټکان نه خوړونکي ملګرتوب ته په درنه سترګه ګورو، د موږ د پوهي او اټکلونو سره سم د المان فدرالي جمهوریت حکومت همداسي لکه موږ په افغانستان کې کومک او همکاري ته تیار دی. هیلمن یو د وتلو پلان په پلي کولو کې المان له هم ځانه انعطاف پزیري وښایي. په المان کې چاروکي هم غواړي، د ۲۰۱۶ کال څخه ورسته په پلانونو باندې له سره فکر وکړي. مهمه نه ده چې سیاسي،پوځي حالات په څه ډول کومې خوا ته دورمي او وده کوي، زه د المان له فدرالي حکومت څخه مننه کوم.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ډيولټ خبريال پوښتنه: آيا دا سمه ده، چې يو څه دهيله کيدونکي لوري ته ورخوځيږي، هغه څه د طالبانو سره د سولې خبرې اترې دي؟
د ډانيل فليډمن ځواب: ښاغلي ولسمشر غني په خورا هوښياري سره هڅه کوي، د مقاومت کوونکو سره د سولې خبرې اترې او پخلاينه د افغانستان څخه د افغانانو په مشرۍ تر سره شي .ولسمشر د خپلې لورې په مراسمو کې د دې ډول خبرو اترو غوښتنه وکړه او ده په دې برخه کې له خپل ګاونډي هيواد پاکستان څخه د مرستې غوښتنه هم وکړه
اما ورستي خبره طالبانو پورې اړه لري، آيا دوی به د خبرو اترو ميز ته کيني، په هر حال کې موږ د دې ډول خبرو اترو پلوي کوو. د سولې او پخلاينې بهير بايد د افغانانو په مشرۍ کې تر سره شي .د خبرو اترو بهير بايد د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د يو ګډ راتلونکي په اړه او په يو ګډ حکومت کې سلا مشورې او جوړجاړی ته سره رسيدل دي. د امريکا متحده ايالات له دريو کالونو څخه د طالبانو سره مخامخ او رسمي خبرې اترې نه دي کړي.

د ډيولټ خبريال پوښتنه : طالبانو خو په تير وختونو کې د افغان حکومت سره خبرې اترې رد کړي دي .
د ډانيل فليډمن ځواب : هر ډول چې وو، له دې حالات سره تير حکومت مخامخ وو،د نوي افغان مشرتابه سره بايد بل ډول چلند وشي. موږ فکر کوو، چې ګړ تر لږه د طالبان ترمنځ يو بحث داسې روان دی، چې د سولې خبرې اترې بايد پيل شي. په دې اړه ځيني مثبتې اعلامې هم شته، زه نه غواړم په دې اړه او هم په دې ورستيو کې په قطر کې د نارسمي خبرواترو په اړه، له ځانه نور تفسير ورډير کړم. چيرې چې د طالبانو استازې د افغانستان د سولې عالي شورا له جګپوړو چارواکو سره د سياسي شخصي افرادو په څير په خبرواترو کې برخه اخيستلې ده. ښايي داسي ناستې د رسمي خبرواترو لپاره ښه چيريال برابرکړي. اما له دې امله تراوسه په امنيتي وضعيت او حالاتو کې د ښه والي څرک نه دی راڅرګند شوي.

د ډيولټ خبريال پوښتنه: کيدای شي د ايران سره په اټومي شخړه کې د يو جوړ جاړي څخه ورسته د افغانستان د سولې شرايط نوره ښه شي؟
د ډانيل فليډمن ځواب: تر اوسه هيڅ څوک نه پوهيږي، چې په رينتيا سره به د اټومي کړکيچ په اړه يو تړون رامنځته شي او که نه. په دې برخه کې لا ځښت ډير کار پاتې دی. اما پرته له دې د امريکې متحده ايالات او ايران په افغانستان کې ځيني نورې ګډې ګټې او ليوالتياوې لري، لکه د مخدره توکو کښت او د مخدره توکو قاچاق په ضدګډه مبارزه، د افغان کډوالو حالت او د سيمې د ثبات د ښه والي په اړه.
ايران لکه د امريکا متحده ايالاتو په شان د ډيپلوماټيکو ځانګړو استازو او د نړيوال کنټک ګروپ دغړو هيوادو غړي هيواد دي. دغه ځانګړي کاري ډله د المان هيواد په نوښت رامنځته شوي اوتر اوسه د المان هيواد يې مشري کوي.
د ډيولټ خبريال پوښتنه :داسې نښې نښانې شته، چې د داعش اسلامي ترهګره ډله په افغانستان او پاکستان کې په فعاليت پيل کړي دی او په جلب جذب باندې بوخته ده .دا په دې مانا ده چې بيا په هندوکوش کې نوې ګواښ رامنځ ته کيږي؟
د ډانيل فليډمن ځواب : موږ لکه افغانان او پاکستانيان په ډير دقت سره حالات څاړو. سمدلاسه موږ هڅه کوو، چې ډير مالومات راټول کړو.تر څو موږ يو دقيق سنجش وشو کړي .تر اوسه نه ده مالومه، چې آيا د داعش سره د ځينو اورپکو پيوستون په رينتيني توګه يو ستراتيژيک نوي بدلون دی او يا دغه جنګيالي يواځې د موقع څخه په ګټه اخيستلو سره ارتجاعي زيګنالونه ليږي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ